# پښتو لهجې

هره ژبه مختلفې لهجې لري او د دغو لهجو ټولول او د هغوی ممیزات معلومول د لساني پوهنو یوه دلچسپه مشغله ده. د ژبو پوهان تل د دغو په مطالعه او پلټنه بوخت وي او پر علمي اساسونو برابر د ژبو لهجې ضبطوي او خواص او غوره مواد یې څرګندوي.
څه وخت د مخه د شرقي ژبو د پلټنې له پاره پر بین المللي اساس د دینا د علمي مؤسسو له خوا اقدامات وسوه او د یوه ژبني اتلس د
ترتیب له پاره په ایران او افغانستان کې کار شروع سو، چې زموږ د ادبیاتو په فاکولته کې هم د دې کار له پاره یوه خاصه شعبه جوړه سوه او کله چې دغه کار بشپړ سي نو به یقیناً د ژبو د پلټونکو له پاره مغتنم مواد او معلومات ټول سي او ښایي په چاپ کړي ډول د شوقمندانو لاس ته ورسیږي.
د پښتو ځیني لهجې له هرات او فراه څخه بیا تر سواته او پکهلی پوري ما اروېدلي او په دغو ځایو کې ګرزېدلی یم او ممکنه ده چې دغه سیمه طولاً یو زر میله اوږده وي. په دغو سیمو کې د پښتو لهجې لکه د نورو ژبو غوندي لږ لږ تفاوتونه سره لري او یو ځیر کتونکی او پلټونکی سړی له هغو څخه ډېره ګټه اخیستلای سي.
یو وخت د پښتو په نهایي شمالي سیمه کې د کشمیر د غرو په لمنو کې زما د یوه پښتانه پکهلي وال سره خبري وې، ده ویل : ها بله ورځ دلته پولیس والا غله نیسلي دي.
د نیسلي کلمه زما په غوږ نوې راغله خو وروسته دا معلومه سوه چې ځیني د هغې خوا پښتانه دغه زموږ مشهور مصدر نیول نیسل وایي او ټول مشتقات یې په سین کوي، خو موږ په محاوره کې فعل حال او استقبال او امر په سین وایو او نور مشتقات په واو دي، لکه : نیول، نیولی، ویې نیو، نیسي، وبه نیسي، ونیسه.
بل وخت په پښین کې ما د یوه کاسي زلمي سره خبري کولې، ده ویل: که دې کندي ته څوك ولوېږي نو مړېږي، یعني مړ کیږي. حال دا چې اکثرا پښتانه مړېږي د موړ کیږي یعني سیر می شود په معنی استعمالوي.
تر پښین لږ څه ور لوړ په ږوب کې کاکړان د غرو خلکو ته پاوال وایي او دغه اصطلاح په مري او رخشاني بلوڅانو کې هم سته. دی وایي : پلاني غره ته پاوت یعني وخوت، په درخته پاوزه یعنی وخېژه.
د هرنائي تریناں خپله لهجه تریناو بولي او په دغه لهجه کې پلار (پیار) او لمر (میر)، اوبي لیږدا، اوبګړی، ملیشتن، اوباد، واګو، او شیدې شوا بولي او د دغي اخیري کلیمې نوري لهجې داسي دي : شیدې : شوده، شیوده : شیده.
د شیرانو او بابړو په سیمه کې د کسي غره او سلېمان تخت په لمنو کې هم کله ما د پښتنو سره خبري کړي دي. یوه ورځ یوه شیراني ها بل ته ږغ کړه : (ګانده مزدك له راسه) په دې جمله کې دواړي کلیمې زما له پاره نوي وې او د معني پوښتنه مې وکړه تر تحقیق وروسته معلومه سوه چې د شیراني ورور مقصد دا و : (سبا مسجد له راسه).
دغه دواړي کلیمې ما په قدیم ادب کي لوستي وې، خو په خبرو کې مې نه وې اروېدلي. ګانده د سبا او فردا په معنی په پښتو ادب او د خټکو په شاعري کي ډېر استعمال سوې ده، خوشحال خان خټك وایي :

چي به ګانده فناه کيږي
ګانده نه ده نن فـــناه ده

سبره ! هـــــيڅ په ټيټو ونو لـــويي مـــکړه
ستا به هم ګانده قامت کاندي روزګار کـج

شل کاله مخکي چي ما په کندهار کي د خوشحال او عبدالقادر دېوانونه چاپول هلته ماته معلومه نه وه چي دا کلمه کانده ده که
ګانده؟

مګر تر سماع وروسته ښکاره سوه چي په ګان ده او مزدك خو د پښتو قديم ادب يوه اصيله کلمه ده د مسجد په معنی چي د غوريانو د زمانې په اشعارو په پټه خزانه کي مکرره راغلې ده. مګر د شېراني ورور له ږغه دا ښکاره سوه چي دا پخوانۍ کلمه تر اوسه لا هم ژوندۍ ده مګر فقط په هغه سيمه کي. خو نور پښتانه يې نه پېژني. دوی ماجت يا جومات وايي چي مفغني کليمې دي.

د بنو څخه د جنوب خوا ته د وزيرستان په څنډه‌وکي يوه مسيد ورور بل ته ويل : زميژ مير ناريغه دا ابراور تابيل کړه. په دې جمله کي زه په يوه آخره کلمه وپوهېدم، هك پك وم چي څه وايي؟

ور نژدې سوم چي مسيده وروره بيا ووايه ! هغه چي څو واره خپله خبره تکرار کړه او معلومه سوه چي داسي وايي :

زموږ مور ناورغه ده اور ورته بل کړه.

دلته زما هغه کيسه را په ياد سوه چي يو وخت د زمين داور په نوزادکي ما له يوې خورلنۍ څخه ډوډۍ وغوښته، هغې راته ويل : (تبی ماته سوه، ډوډی مي نه ده پخ کړې)، دغه کلمات چي نور پښتانه يې په آخره کي تأنيثي درنه (ۍ) سره وايي او په کندهار کي ماقبل آخر ته يو دروند زورکی ورکوي نورزيان يې په اوږده مجهوله (ې) اداء کوي او جمع يې په هغه تأنيثي (ۍ) وايي، خو بيا دغه جمع مؤنث د کندهار په شاوخوا کي ځيني خلك داسي وايي : تبياني، ډوډياني، شړياني.

يوه ورځ د لوړ مردان په سوابۍ کي د اباسين پر غاړه په لارکي اوبه او ختي وې، يو زلمی په دې وختو کي خوت راخوت يوه پښتانه کاکاجي ګبږ جګ سرې و او د خمتا اوږد خت يې اغوستی و هغه زلمي ته په ناصحانه لهجه داسي ويل : (په چقرکي ټوقي ټقالي مکوه وبه لويګي) ما چي دغه مسلسل غټ غټ قافونه واروېدل نو مي د کندهار اځګزي را په ياد سول، چي ابداً قاف نه سي اداء کولای او هغه لوړه جمله به داسي وايي : (په چکرکي ټوکي ټکالي مه کوه). داسي لهجې او د اداء ډولونه ټولي ژبي لري، مګرکله چي يوه ژبه په ادبي او عملي ډول روزلې سوې وي نو هغه د ادب او ليك له پاره يو مسلم او غوره او منلی شکل مومي.

زموږ د ليکوالو او ښاغلو ژب پوهانو له پاره د پښتو په پالنه او روزنه او معايري کولو کي يو ارت ډګر موجود دی، چي له دغو لهجو څخه د ادب او تعبير او د کلماتو او اصطلاحاتو د توسيع او غوره کولو له پاره پوره استفاده وکړو او د خوشحال خان ختك په څېر يوه داسي ژبه د خپل ادب او شعر او ليك له پاره غوره کړو چي حتی المقدور د ډېرو محسناتو او ښېګڼو لرونکې وي او د هر چا په لهجه کي چي ښه شی وي، او زموږ ژبي ته وسعت ورکوي هغه بايد واخلو او د استعمال په وسيله يې نورو ته ورسوو. څو چي په پای کي زموږ ادبي او د ليك ژبه يوه

معياري او اساسي جوله وومي، او هر پښتون په مساوي ډول له هغې ځخه خوند او برخه واخيستلای سي[1].

[1] کندهار مجله، ۱۳٤۲ ل کال، ٤مه ګڼه، ۳ _ ٥ مخونه.